مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۸/۰۶/۲۵

# د طالبانو د موازي حکومت تر کنټرول لاندي سيمو کي ژوند

نوټ: دا مقاله ميرمن اشلي جکسن ليکي ده. څرنګه چي مقاله ډيره اوږده وه، ما بنه ډيره رالنډه کړي ده.

که څه هم شپاړلس کاله مخکي طالبان له قدرته پسي واخيستل سول، خو اوس يو ځل بيا طالبانو د افغانستان په ګوټ ګوټ کي يو منظم موازي حکومت ټينګ کړی دئ. ډيرو خلګو دا ګومان نه کاوه چي طالبان دي د افغانستان دونه زياته برخه تر خپل کنټرول لاندي راولي، خو هغوی په ۲۰۱۱ کي د خپل حکومتوالی لمن لا پراخه کړه.
پدې ليکنه کي ما د افغانستان په ګوټ ګوټ کي د عامه خلګو سره د طالبانو د حکومتوالی په باره کي مرکي کړي دي، او د طالبانو د حکومتوالی تکامل مي تعقيب کړی دئ. ما د ۱۶۲ کسانو سره مصاحبې کړي دي. پدې کسانو کي د طالبانو جنګيالي، قومندانان، مشران، پخواني غړي، د کابل حکومت مامورين، ډاکټران، او هغه عامه خلګ شامل دي چي د طالبان تر ولکي لاندي سيمو کي ژوند کوي. دا تحقيق په ۲۰۱۷ کي شروع سو. پدې څېړنه کي افغان ميرمني هم شاملي دي.

## د طالبانو د موازي حکومت آغاز او تکامل

د طالبانو مشران په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کي په پاکستان کي سره راغونډ سول. طالبان ادعا کوي چي د هغوی مهم کميسيونونه لکه نظامي، کلتوري، مالي، او سياسي کميسيونونه په پاکستان کي تشکيل سول. نظامي کميسيون پر جنګي چارو باندي نظارت کوي،او مالي کميسيون نظامي چاري تمويلوي. کلتوري کميسيون پر ميډيا او تبليغاتو باندي تمرکز لرې. مګر د طالبان دا ادعا سمه نه ده،او يا بنايي د ۲۰۰۶ مخکي همدا کميسيونونه صرف د کاغذ پر مخ موجود ول،او زيات کنټرول ئې نه لاره. د طالبانو يوه مشر دا پروسه داسي راته تشريح کړه:
«کله چي موږ پر ځينو سيمو باندي مسلطه سو، موږ فکر وکړ چي خلګ ځيني خدماتو ته اړتيا لري. موږ خپله شورا دايره کړه، او پر دي مسلې مو بحث شروع کړ چي څرنګه خلګو ته خدمات عرضه کړو. بناً، زموږ هر کميسيون د يوه وزارت حيثيت اختيار کړ. د مثال په توګه، د صحت عامي پخوانی وزير ښاغلی عباس د صحي چارو د کميسيون رئيس سو. هر چا چي په هره ساحه کي مهارت لاره، موږ په هغه ساحه کي مقرره کړ.»
په افغانستان کي د طالبانو د موازي حکومت لومړي کسان ولايتي قومندانان او ګورنران ول. د طالبانو قاضيان په ۲۰۰۶ کي راڅرګند سول، او په مختلفو ولاياتو کي ئې فعاليت پيل کړ. په ۲۰۱۰ کي قريب ۵۰۰ طالب قاضيانو په افغانستان کي قضائيه چاري مخته بېولې.
د طالبانو موازي حکومت د امريکا د سرج په جريان کي (۲۰۱۰) کي له مشکلاتو سره مخامخ سو، څکه د امريکا قواوو طالب قومندانان په نښنه کول. په ۲۰۱۲ کي، زياتره طالب واليان د امريکا د حملو له کبله په خپلو ولاياتو کي نه سوای پاته کېدلای، د امريکا قاتلانه حملو د هغوی د کار ساحه ور تنګه کړي وه. مګر کله چي د امريکا سرج ختم سو، او عسکر ئې کم سول، طالب واليان په اکثرو ولاياتو کي راښکاره سول.
د طالبانو د ښورښ په اولو کلونو کي د افغانستان په کليوالي سيمو کي خدمات تنکي سول، او زياترو اين جي اووګانو ساحه تخليه کړه. طالبانو په ۲۰۰۷ کي د خپلو مکتبونو د خلاصولو اعلام وکړ. په ۲۰۰۹ کي، طالبانو د کندوز د چهادري په ولسوالی کي هغه ماشومان او والدين مجازات کړل چي مکتب ته نه حاضرېدل. هغوی معلمان مجبورول چي خپلي وظيفي ته حاضر سي.
طالبان خپل د مقرراتو او لايحو کتاب په ۲۰۰۶ کي خپور کړ. پدې لايحو کي ۳۰ مقررات وضع سوي ول، او مطلب ئې د نظامي دسپلين تحميلول ول. د ۲۰۱۰ د لايحو په کتاب کي د حکومتوالی په باب مشخص هدايات چاپ سوي ول، او د واليانو او ولسوالان نقش په پکښي بيان سوی وو. يو طالب قومندان راته وويل چي د لايحو له چاپېدو سره موږ خلګو ته دا وښوده چي موږ مسؤل کسان يو، او مسؤليت منو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په ۲۰۰۷ کي، طالبانو نړیوال صحي سازمان او یونیسف ته اجازه ورکړه چي د پولیو کمپین عملي کاندي. د طالبانو دي تصمیم هغوی د بین المللي سازمانونو سره په تماس کي کړل. په ۲۰۱۱ کي طالبانو د ۲۶ خیریه موسساتو سره موافقي لاسلیک کړې.
طالب قومندانان وایي چي ملا منصور د طالبانو د موازي حکومت په جوړولو کي عمده نقش لاره. د ملا منصور په زمانه کي زیات امریکایي عسکر له افغانستانه ووتل، د هغوی له وتلو سره جوخت طالبانو خپل د نفوذ ساحه پراخه کړه. یو طالب قومندان وایي،«د امریکائي قواوو د وتلو سره سم، زموږ زیاته توجه حکومتوالی ته سوه. ځکه موږ پوهېدلو چي هر وخت دا فعلي حکومت سقوط وکړي، موږ باید د حکومت کولو لپاره لازم چمتوالی ولرو.»
د بي بي سي د ۲۰۱۸ سروې ښیي چي طالبان د افغانستان په ۷۰٪ فیصده ولسوالیو کي فعال حضور لري. طالبان پدي هم پوه سول چي زیات تشدد او مرګ ژوبله به د هغوی ملاتړ ور کم کړي. طالبانو دغه راز د ۱۹۹۰ د کلونو ځیني مهم اشتباهات اصلاح کړل. هغوی د نجونو پر مکتبونو باندي بندیز لیري کړ، او هغوی اعلام وکړ چي ښځي کولای سي چي مکتب او تعلیم حاصل کاندي. هغوی اوس د تیکنالوژي په اهمیت هم پوه سوي دي. هغوی ویب سایټ لري. د وټساپ او ټویټر اکاونټ هم لري.

## حکومت او حکومتوالي:

د طالبانو مشر ملا هبت الله سیاسي او روحاني مشر دئ. د هغه یو مرستیال ملا یعقوب دئ،او بل مرستیال ئې سراج الدین حقاني دئ. لدې راوروسته د طالبانو د مشرتابه شورا ده. طالبان د هر ولایت لپاره یو ګورنر لري، او دا والي د شورا لخوا ټاکل کیږي. عموماً د طالبان هر ګورنر د بل ولایت وي، او قاعدتاً هر کال تبدیلیږي. طالبان ډیر داسي کسان لري چي په څو ولایاتو کي ئې ولایت کړی دئ. په هر ولایت کي یو کمیسیون هم لري چي له محلي او مذهبي مشرانو څخه تشکیل سوي وي، او طالب ګورنر ته سلا مشورې ورکوي. کله نا کله د طالبانو والي نظامي چاري هم پر مخ بیایي. د ولایاتو تقسیمات په ولسوالیو کي کاپي سوي دي. او عموما هر ولایت او ولسوالي خپل ځانته تشکیلات لري. د معارف، صحت، او نورو چارو رئیسان لري.

## تعلیم او تربیه:

د طالبانو د معارف کمیسیون په ولایاتو کي د معارف رئیسان ټاکي، هغوی په خپل وار په ولسوالیو کي د معارف لپاره مسول کسان ګوماري. دا مسؤل کسان باسواده خلګ وي، او مولویان او ملایان هم پکښي شامل وي. هغوی په مکتبونو کي تدرئیس هم کوي، او د مکتبونو مالي چاري هم سمبالوي. د طالبانو د معارف رئیسان د کابل حکومت د معارفو د وزارت سره د تعلیم او تربیې د اصلاح کولو په چارو کي همکاري کوي. د ۲۰۱۸ د فبروري په میاشت کي د هلمند په ولایت کي طالبانو او کابل حکومت د معارفو رئیس یوه موافقه لاسلیک کړه چي د هغي پر اساس به غیر حاضره معلمان مجازات کیږي، او دواړي خواووي به هڅه کوي چي ترل سوي مکتبونه بیرته پرانزي.
البته د طالبانو او کابل د معارف مسؤل کسانو روابط څه نابرابر غوندي دي. ځکه د کابل د معارف رئیسان مجبوره دي چي د طالبانو خبرو ته غوږ ونیسي. ځکه هغوی باور لري چي که چیري د طالبانو مخالفت وکړي، د طالبانو له جدي برخورد سره به مخامخ سي.

## د معلمانو او مدیرانو فلټرول:

هغه معلمان چي ټاکل کیږي هغوی باید د معارف د وزارت او د مکاتبو د شورا لخوا فلتر سي، او سوابق ئې وکتل سي. که چیري یو معلم د طالبانو له طرفه تائید نه سي، د طالبانو په سیمو کي د هغه معلم مقرره کول ناممکن کیږي.
یو معلم خپل د مقرریدو جریان داسي تشریح کوي:«مدیر زه د معلم په صفت پیشنهاد کړم، او حکومت قبول کړم. مګر طالبانو ویل چي باید زما سوابق وګوري. زما تر مقررۍ د مخه، هغوی زما په باره کي له خلګو پوښتني وکړې.»
د طالبانو تفتش کله نا کله پر مکتبونو باندي ګرځي، او صنفونه ګوري، د تعلیم میتود څاري، او معلمانو ته هدایات ورکوي. د طالبانو تفتش د معلمانو حاضري هم څاري. که چیري یو معلم له یوې ورځ څخه زیاته غیر حاضري وکړي، هغه معلم د یوې میاشتي لپاره کسر معاش کیږي. د طالبانو نصاب دلته او هلته تغییر کوي، خو د هغوی په نصاب کي مدام د افغان د اساسي قانون، فرهنګ، او قانون مضامین حذفیږي. کله نا کله د انګریزي ژبي تدرئیس هم منع کیږي، او پر ځای ئې اسلامي مضامین تدرئیسیږي.
طالبان د متعلیمنو حاضري هم څاري، خو په هغه جدیت ئې نه څاري لکه د معلمانو حاضري چي تفتش وي. شاګردان باید افغاني جامي واغوندي. لنډ وربښتان ولري، او کله چي ځوانان سي باید ږیري پرېږدي. که چیري کوم شاګرد بد اخلاقي وکړي، عموما طالبان او یا نور مشران هغه متعلم ته نصیحت کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

که څه هم د طالبانو په سیمو کې پوهنتونونه نسته، خو هغوی په کندوز کې یو خصوصي پوهنتون ته امر کړی وو چې د نجونو او هلکانو محلصینو لپاره جلا جلا صنفونه برابر کړي. کله چې همدې پوهنتون د طالبانو له حکم سره مقاومت وکړ، طالبان پدې راضي سول چې په صنف کې پرده ووهل سي، څو ښځینه او نارینه محصلین سره بېل کړي. په وردگ او کاپیسا کې پروفسورانو همدا خبره راته تکرار کړه. خو هغوی وايي چې طالبان پر استادانو باندي فشار واردوي چې طالب محلصین کامیابه کړي.

د دغو محدودیتونو سره سره، اکثره استادان وايي چې د طالبان په معارف کې اصلاحات راوستي دي. طالبان د حکومت له فساد څخه د خپل ځان په نفع کټه پورته کوي، او خلګو ته دابنیي چې تر حکومت ښه دي. د کابل حکومت د معارفو په وزارت کې پراخ فساد روان دئ.

خو د طالبانو په سیمو کې معلمان او متعلمین پر وخت مکتب ته ځي. کتابونه او قرطاسه نه غلا کېږي. او په صنفونو کې نظم او دسپلین وي. د طالبانو په سیمو کې مکاتب لا اوس هم هغه نصاب او کتابونه تدرئیسوي چې د ملګرو ملتونو او نورو ډونرانو لخوا تصویب سوي دي. خو ځیني معلمان د طالبانو انضباط او فکري کنټرول نه خوښوي، او وایي چې طالبان پر معلمانو باندي خپل نظر خامخا تحمیلوي.

پدې تحقیق کې، د طالبانو تر ولکی لاندي د نجونو د متوسطه مکتب په باره کې څه نسته. د طالبانو د وياند په قول په هغو سیمو کې چې خلګ نه غواړي خپلي لوڼني مکتب ته واستوي، هلته طالبان هم مکتب نه لري. مګر هغه وويل چې د ننګرهار د شیرزاد په سیمه کې خلګو د نجونو مکتب وغوښت، او طالبانو هلته د نجونو لپاره متوسطه مکتبونه پرانیستل.

طالبان ټینګار کوي چې دوی د نجونو د متوسطه مکتبونو او تعلیم په اړه کوم مشکل نه لري، خو په عمل کې هغوی مدام دا کار نه کوي. کله چې امنیتي شرایط خراب سي، اکثره والدین خپلي لوڼني له مکتبه باسي، او یا ډیر احتیاط کوي. البته د طالبانو محدودیتونه د نجونو د تعلیم په برخه کې ځیني ستونزي ایجادوي.

خو څرګنده خبره دا ده چې نه طالبان او نه هم د افغان حکومت د نجونو د تعلیم په برخه کې جدي ښکاري، ځکه هغوی ډارېږي که چیري پر دې موضوع باندي ټینګار وکړي، د محلي عکس العمل سره به مخامخ سي. حتی په هغه ځایونو کې چې طالب مشران د نجونو تعلیم ته متعهد دي، هغوی د محلي عکس العمل په باب اندېښمن وي.

## مالیات او عایدات:

د طالبانو عایدات او مالي مسایل هم د طالبانو لخوا پټ ساتل کېږي، او هم د نورو لخوا تحریف بږي. عموما د طالبانو د عایداتو په باره کې ویل کېږي چې هغوي په روزګان کې هره میاشت ۲/۵ (دوه نیم) میلونه ډالره تر لاسه کوي، او په کندوز کې ۱۰ (لس) میلونه ډالره عایدات لري.

د طالبانو مالي کمیسیون د ګل آغا تر مشری لاندي ادار کېږي. دا کمیسیون خورا قوي دئ، ځکه مالي مسایل کنټرولوي. د مالي کمیسیون استازي په ولایاتو کې هم سته، او هغوی د طالبانو لپاره عایدات، مالیات، عشر، زکات، او د مخدره موادو څخه عایدات راټولوي.

## نتیجه:

طالبان د افغانستان پر پراخو سیمو باندي حاکم دي. هغوی د میلونهاوو افغانانو پر معارف، صحت، اقتصاد، معلومات، او اجتماعي ژوند باندي کنټرول لري. څرنګه چې عام افغانان د طالبانو او خارجیانو (جمع افغان حکومت) تر فشار لاندي دي، هغوی د خپل ژوند د ساتلو لپاره زیات کړاوونه ګالي. زما په مرکو کې زیاتو ملکي کسانو د طالبانو څخه حمایت کاوه، خو د هغوی ملاتړ زیاتره پدې خاطر وو چې له حکومته په عذاب ول. خلګ له حکومته زیات توقعات لري، خو د کابل حکومت د هغوی سره سخته جفا کړې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ